مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۰۹/۲۵

# د نه‌منلو سفر

د لس پوړیزي ودانۍ پر بام اوسیدو. شاوخوا مو رنګیني مانۍ وې؛ خو د کار ستړیا دا سیک نه و را پرې ایښي چې له ننداړو یې خوند واخلو. له بامه د نیم متر په لوړ والي دیوال تاو و، کله چې به دیواله ته نږدې شوم او غوښتل به مې لاندې ښار ته وګورم؛ نو لکه څوک چې مې ټېله کوي. سترګو مې تور خوړه او بیرته به شاته شوم او یا به ځای په ځای کیناستم.

په هغه ورځ ژور فکر کې لاړم، ما ویل راځه له دې تحصیله هسې هم څه نه جوړیږي، کسب ته لاس واچوه. رنګمالان راغلي ول، ځان سره مې ویل د همدې دلې غړی شه. په ودانیو او خپلو کالیو رنګونه پاشه. رنګ به د ودانیو د ښکلا نښې او ستا پر کالیو به د غریبۍ، کډوالۍ او در به دری نښې وي. همدې چورتونو کې وم چې د رنګمال یو شاګرد له هغه لند پرده دیواله واوښت او اخوا یې د روک زاړه رنګونه توګل. ما چې د ده جرئت او غټ زړه ولیده، بیخي حیران او پر خپله پرېکړه پښیمان شوم. ما ویل که سبا تاته په دغسې خطرناک ځای کې د کار کولو امر وکړي چې ته ورته له ویرې ورنږدې کیدای نشې، نو څه حال به دې وي؟ شاید بې هوښه شې او شاید پښې دې سستې شي او خواره واره هېونه دې د لاندې قیر سړک نقش شي.

نیوهیدم، دا کوم محرک و، کومه انګیزه وه چې د رنګمال له شاګرده یې ویره تښتولې وه او هغه یې داسې خطرناک ځای کې کار کولو ته مجبوره کړی و؟ شاید د ده رزق په دغسې ځایونو کې لیکل شوی و.

نن مې د خپل هغه ماشوم هیوادوال په اړه ګڼ راپورونه ولوستل چې د الوتکې د ټایرونو په منځ کې یې، د زرګونو فوټو په ارتفاع، د ۷۰۰- ۸۰۰ کیلومتره في ساعت رفتار کې یې، یو نیم ساعت له حده پورته تېز شمال، له صفر لاندې سړه هوا زغملې او تر هندوستانه رسیدلی و.

که څه هم ګڼو رسنیو دا راپور نشر کړی؛ خو زړه یې نه مني. سړی حیران شي چې یو دیارلس کلن ماشوم څنګه دومره خطرناک سفر ته زړه ښه کولای شي؟ څنګه له دومره خطرناک سفره روغ راوتلی شي؟ یا: دا څه کیسه وه چې یو تنکی ماشوم یې دې خطرناک سفر ته مجبوره کړ؟ دا خپلې کومې ورکې پسې دومره سرګردانه و؟ او....

هرڅه چې و، وي به. نور اړخونه یې پرېږدو؛ خو خواست دا دی چې که دا خبر ربښتیا وي، نو دا ماشوم به بیخي زیات ویریدلی وي. ممکن د وخت په تیرېدو، دغه ویره پس لړزې شروع کړي او ممکن د امیدونو او صحت مانۍ یې ښه سمه و جړقوي.

اوس، په کار ده چې دا ماشوم د ارواپوهانو تر ټینګ نظارت لاندې په دولتي شفاخانه کې بستر شي، هیچاته اجازه ورنکړل شي چې هغه ته قهر وکړي او یا یې روحا شکنجه کړي. باید صحت ته یې ټینګه پاملرنه وشي، ویره ترې د درملو یا خبرو له لارې لیرې کړای شي او بیرته عادي ژوند ته راوګرځول شي.

او:

**"د چا په زړه کې ارمانونه په سلګو پراته وي**
**د چا قسمت کې راحتونه په دلو پراته وي"**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ